داحمدشاه وردگ لیکنه - کابل- د۱۳۹۱ کال د سلواغی یوولسمه


۰۵ فبروری ۲۰۱۳

دا بغـــداد نـــه دی کـابـل دی یـرغـلـگره
دلته خاوری ککری شوی دمغل هم دفرنګ

## نیولیبرالان په افغانستان کی دخپلو ماتو پره یو پر بل اچوی!

### زلمی خلیلزاد ته د دانا رورا بکر لیک ته کتنه

په دی ورستیو کی ددوو نیو لیبرالانو(دانا رورا بکر او زلمی خلیلزاد) ترمنځ چې کوم لیکونه رد اوبدل شوی، اوپه افغانی رسنیو کی هم خپاره شوی.په دغو لیکونو کی چی کومو امریکایی چاراواکو یو پربل تورونه لګولی اویوبل یی په دی ملامت کړی چی دا ته وی چی مونږ دناکامیو سره مخ شوو، ددی هیوادد تاریخ حقانیت او ددی ولس میرانه په ثبوت رسوی . دا ډیره ښه خبره ده چی دوی هم لکه دپخوانی شوروی اتحاد دسیاسی بیرو غړوپه شان چی دخپل دشرم نه ډک تیری په وخت کی یو پر بل تورونه لګول اودخپلو ماتو پره یی پر بل اچوله، یو بل ته دتاریخ چټلی پرمخ موښی اویوبل ته ګوت څنډنه کوی.

راځی چی دامریکی دکانګرس دغړی دانا رورا بکر چی مونږته د غیر متمرکزاو دښه فدرالی حکومت خوبونه هم وینی اوپه دی هیله کله ناکله په بهرکی (برلین) اویانورو غربی ملکوکی ځینی تروخت تیر مړی(دوستم، محقق، برادران قهرمان) اونوری وطن پلورونکی کړی سره راټولوی اوکله هم ددوی پلاراندر(پلندر) عبدالله انس(۱) هم په دغه غونډو کی برخه اخلی ترڅو وکولای شی دغه ځپل شوی ملت نور هم وځپی.

رورا بکر په خپل لیک کی ډاکتر خلیلزاد ته ګوت څنډنه کوی اودی تورنوی چی داته وی چی دکرزی په کټه دی دیوه متمرکز حکومت څخه ملاتړ کاوه اوهم دی دبن په غونډه کی ستار سیرت چی ترکرزی یی ډیری رایی وړی وی مجبورکړ ترڅو له خپلی نوماندی څخه تیرشی؟ ښاغلی رورا بکر! مونږ افغانان ټول په دی ښه پوهیږو چی تاسو نیو لیبرالانو زمونږ د سپیڅلی جهاد له پیله اوحتی ترهغی دمخه څرنګه له دغه میړنی ولس سره جفاوی کړی. دا تاسو نیولیبرالان وی چی دشوروی یرغل په وخت مو دټول منځنی ختیځ دجیلونو دروازی ماتی کړی اوټول جنایتکاران، سلفیان ، اخوانیان اونور جاسوسان مو دجهاد لیکو ته ننه ایستل او زمونږ دوینو اوسرونو قربانی مو دتریاکو اوتروریزم په نامه بدرنګه کړ اوپه پایله کی مو خپل تیری ته لاره پرانیسته اوراغلی دلته مو وژنی ، ربړونی، چورتالان وکړ، خپله پوځی تکنالوژی مو دلته وآزمویله اوڅه مو چی په چانته کی و هغه مو په دغه خوارو خلکو چی دروسی یرغل اوستاسو دګمارل شویو دین پلورنکو دظلمونو اوځورونوڅخه یی پوره ساه نه وه اخیستی، تشه کړه او

دانسانیت ټولی پولی مو تر پښو لاندی کړی، خلک مو په سپیانو وخوړل، په افغانی میرمنو مو ډله ایز تیری وکړل، ماشومان مو شهیدان کړل اوبالاخره دومره ذلیل او پست شوی چی زمونږ دشهیدانو په جسدونو مو ملنډی ووهلی اوبولی مو پری وکړی.

کور په کور،کلی په کلی، قوم په قوم او ولس په ولس مو دښمنیو ته لمن ووهله ، دشمال او سوویل، پښتون اوغیر پښتون په نامه مو دلته وژنی وکړی،له خصوصی زندانونه څخه نیولی بیا دعیاشی اوفحشاء ترمرکزونو او نایټ کلپونو، دبالیت او ټانګو نڅاوو کورسونه موجوړل کړل او ددی هیواد ځوانان مو په خیانت ، بډی اخیستنی اوکمپوټری غلاوو باندی روږدی کړل. ولی ددی ټولی ناخوالو او وژنو ترڅنګ مو دی هیواد ته داسی کارونکړ چی سبا ورځ ددی خلکو په درد وخوری. په ملیارډونو ډالر مو په هغه اردو اوپولیسو ولګول چی په تنظیمی او سمتی بنسټ جوړه شوه اوتاسو جنابان په خپله اعتراف کوی چی دا پوځ زمونږ تروټلو یوه اونی هم دوسلوالو مخالیفونو سره دجګړی توان نلری. هوکی! نه داپوځ، نه دروسانو په لاس جوړ شوی پوځ، نه دانګریز ګواډګی پوخ ددی اتل ولس په مخکی تاب نشی راوړی اوهمداسی په دړی وړی کیږی لکه نوری اجیری اردوګانی چی دلته له منځه تللی.

ښاغلی رورابکر تاسو اوستا نیولیبرال ملګری خلیلزاد ددی هیواد له تاریخ اوکارنامو څخه بی خبره یاست، ستا سو په لاس جوړ شوی نظام که مرکزی وی یا فدرالی ،ریاستی وی یا صدراتی دلته مردود او ناکام دی، دانه خلیلزاد و او اونه هم ته اونه هم ستاسو انډیوال له کاسینو(۲) څخه چی تاسی یی ناکام کړی، بلکه دا ددی هیواد میړنی بچیان و چی تاسو یی ناکام کړی او دخپلو پلرونو په څیر یی یوه بله امپراطوری هم دلته دنیستی کندی ته وغورځوله. داددی هیواد دخلکوټینګه اراده اوله هیواد سره مینه وه چی تاسو یی له ماتی سره مخ کړی.. که څه هم تا سو ډیرزیار وایست ترڅو زمونږدآزادی سنګر دطالب، القاعده، بنسټ پال، شمال او سوویل اونورو په نومونو بدرنګه کړی، او داکار مو ترډیره حده پوری ترسره هم کړ؟ ولی پایله هماغه پخوانی پایله ده!، یعنی دتیری کوونکو نیواکګرو له شرمه ډکه ماته!.تاسو کولای شی یو کمزوری افغان په بیه رانیسی؟ ولی هیڅکله به یی خپل نشی کړای. دا ددی هیواد تاریخ دی چی نه مسخ کیږی اونه یی هم څوک تحریفولی شی اودا افغان ولس دی چی ددغه تاریخ ټکی یی په خپلو وینو رنګین کړی.

خــــال بـــه دیــــار د ویـــنو کــــیږدم چی شینکی باغ کی ګل ګلاب وشرموینه

زلمی خلیلزاد دهیواد په اوسنی غمیزه کی له شکه پرته خپله کرغیرنه ونډه ادا کړی او ستاسو امپراتوری ته یی دخپل پلرنی هیواد په پرتله ډیر چوپړ کړی او دهیواد دبچیانو په وژنه کی یی هم ترنورو ډیری خولی تویی کړی، دلسګونو قرارداونو ترڅنګ، په مافیایی بانکونو او نورو دزرو ټولو پروسه کی ترهر( سګ شوی۲-) یوګام وړاندی دی. په ټولو پټو معاملو کی ، ددولتی چارواکو په ټاکنه، پارلمان، کابینی ته په ورتګ کی دده ونډه دلمر په ښان روښانه ده اوهیڅوک سترګی نشی پری پټولای. ولی زلمی خلیلزاد ستاسو دناکامیو اصلی عامل نشی کیدای. ځکه دا دمنطق نه لری خبره ده چی یوکس دوکولای شی چی دیوه ملت سرنوشت وټاکی. ستاسو ناکامی په بل ځای کی ده لکه مخ کی چی یادون وشو.

ښاغلی رورابکر دامریکی ناکامی په متمرکز اودیکتاتوری نظام کی ګوری او وړاندیز کوی چی که مو فدرالی نظام غوره کړی وای نو هرڅه به سم و؟؟؟ ولی مونږ افغانان په دی ښه پوه یو چی تاسو دسره کوم نظام دلته جوړ نکړ( نه فدرالی نه مرکزی) ، تاسو دتاریخ شرمیدلی څیری چی ولس هغوی رټلی و، راټولی کړی او یوه مافیایی افغانستان ضد اداره مو رامنځ ته کړه ترڅو تاسو ته هوکی ووایی اوپرته له تاسو هیڅ چاره هم ترسره نکړای شی( آخر له دغو څیرو څخه دافغان ولس نه ؟ بلکه دهغوی خپلی کورنی هم متنفره وی) چی بالاخره دهمدی اداری درسواییو بوی اوس ټوله نړی په سر اخیستی.

ښاغلی بکرا! نه کرزی دپښتنو استازی دی اونه هم هغه ځیری چی تاسو زیارباسی له هغوی څخه ولس ته اتلان جوړکړی(شمال ټلواله) دغیرپښتنو استازی کیداشی. تاسو خوب وینی اوکه مو عقل له لاسه ورکړی! چی ددی کرغیړنو ځیرو څخه چی زمونږ تاریخ اوویاړونه یی له خاورو سره مخامخ کړی ، څرنګه هیله کیدای شی چی هیواد به ورغوی. تاسو ډیره لویه تیروتنه وکړه چی اخوانیانو ،سلفیانواوخادیستانواوهغو بشری ضد کړیو ته مو نیکتایی ګانی ورواغوستی اوله دوی څخه مو دموکراتان جوړ کړی اواوس په ناامیدی سره هڅه کوی چی هغه دوه ځناور چی دغوبل څخه دباندی پاته دی را دننه کړی ، نکتایی وروتړی اودنورو لسو کلونو لپاره یی په مونږ وتپی.

دغه نیولیبرال اعتراف کوی: (حکومتی را که ما در نصب آن کمک کردیم، با شیوهٔ زندگی مردم افغانستان مناسب و سازگار نبود)، هوکی ښاغلی بکرا! نه یوازی ستاسو په لاس جوړ شوی حکومت دلته زمونږ سره سازګار ندی اوسل په سلو کی ناکام دی بلکه هرهغه حکومت چی دپردیو په لاسونو جوړشوی وی هغه به ستاسو ،د روسانواود دینی تجارانو دحکومت په څیرناکام او نسکور وی. ځکه دلته بغداد نه دی کابل دی! اوله دغه ډنډه به داسی روغ رمټ ونه وزی لکه دویتنامه یا دعراقه! دځپلو جنایاتواوبربریتونو بیه به هرومرو دلته پری کوی.

نوموړی بل ځآی داسی لیکی:( یک سیستم نسبتا غیرمتمرکز فدرال میتوانست هم با عنعنات ما و افغانستان سازگار باشد) فدرالی نظام کیدای شی چی ستاسو دعنعناتو سره سمون وخوری؟ ځکه په تاریخی لحاظ تاسو کومه عنعنه نلری او۳۰۰ کلن تاریخ مو له اپارتاید ، په نورو دتیری اواتم بم غورځونو سره تړلی دی. نو ستاسو عنعنات د تاسو ته مبارک وی اومونږ افغانان به که خدای کول په خپله پریکړه وکړو چی څرنګه نظام زمونږ لپاره غوره دی، یوازی د تاسو خدای له دی پاکی خاوری ورک کړی.

نوموړی دخپل لاسپوځی کرزی په هکله داسی لیکی:( اما او رهبری نبود که در جریان یک پروسهٔ افغانی ظهور میکرد). ډیره دخندا وړده چی دامپریالیزم دغه نوی ځوان غواړی مونږ په دی قانع کړی چی دبن پروسه افغانی پروسه وه؟ او کرزی داسی سړی نه وچی ټاکل شوی وی، نوموړی په هغه دخنداوړ رایی اچونی تکیه کوی چی ګواکی ستار سیرت ۹ رایی او کرزی ۲ رایی وړی؟ د ۳۰ ملیونو افغانانو اراده او رایه په ۹ یا ۱۱ جنایتکارانو کی را لنډه کړی. او که چیری ستار سیرت چی ستاسووهابی مزدور دی په ګدی ناست وای نو هرڅه به سم و؟؟. نه ښاغلیه! ستا سو په لاس که دلته دآسمان ملایکه راوړل شی نو ددی ولس عکس العمل به هماغه وی کومه چی ستا سو داسلافو په مقابل کی وه، اوبله یوه ډیره دمنافقت خبره چی تاسو یادون کړی اودلته یی هم ځینی پلورل شوی کړی خوله په خوله کوی هغه په دی هیواد کی دپښتانه او غیر پښتانه دمشری خبره ده! کومه چی هم داستعمار لخوا په داتیرو پیړیو کی مروجه شوی او کومه چی له بنسټه غلطه ده او دهیواد اوسنی تاریخ دا په اثبات رسولی. ټول پښتانه دتره کی او امین په وړاندی له نورو ورونو قومونو سره یوځای دآزادی سنګرته ورودانګل، همدارنګه نورو ورونو قومونو د کارمل، ربانی اونور په وړاندی ودریدل. داهغه امپریالیستی چل ول دی چی ددی هیواد بچیان یی اوس ښه پیژنی. که پښتنو کرزی خپل مشر بللی نو دده حاکمیت به یی منلی وی او په وردګو، لوګر، پکتیا، غزنی، کندهار، هلمند اونوروپښتنی سیمو کی به یی دخپلو سرونو په بیه ده او دده ولی نعمتانو ته مرګونی ګذ ارونه نه ورکول؟ که دکرزی حکومت دپښتنو حکومت وای؟ نو پښتو ژبه به نن دپوهنتون په ځآی په ګوانتانامو اوبګرام کی نه ویل کیدای. دلته دپښتون، تاجک، هزاره، ازبک په نامه څوک حکومت نه غواړی اونه یی ملاتړ کوی، دا داستعمار د۱۹ پیړی شیطانت دی چی مونږ افغانان پری ښه پوهیږو.

په ګران هیواد افغانستان اوټوله نړی کی دا منل شوی حقیقت دی چی هر جابر ، جنایتکار اوظالم لومړی په خپل قوم اوټبر ظلمونه تجربه کړی، لکه څومره چی دګلبدین ظلمونه اوناتارونه په پښتنو تیر شوی په غیر پښتنو ندی تیرشوی، همدارنګه د"بحران الدین" ربانی، دوستم، محقق خلیلی ظلمونه په تاجکو، ازبکو اوهزاره و تر طالبانو اوګلبدین ډیر

دی. نو په کوموسترگو اوکوم عقل ښاغلی بکر دوی دشمال دخلکو استازی بولی اوپه دوی پسی دی او سره ټولوی یی کوم چی مونږ افغانان ورته دمړیو په سترگه گورو اوپه مړو ژرندی نه کیږی.

ښاغلی یانکی! دلته چی راتلی نولومړی به د دتیښتی لاره ځانته روښانه کړی وه. مونږ متل کوو چی : سپی کله هډوکی خوری نو خپل ځټ ته نه گوری؟؟؟ دابغداد نه دی کابل دی ای ظالمه! دلته خاوری ککری شوی دمغله ترانگریزه تر روسییه!

نوموړی زیاتوی:( کرزی یک شخصی مربوط شما بوده و بصورت وحشتناکی ناکام شده است)! دی بهادر ملت ته خړ سپی دلیوه ورور دی! که دانانځکه دنیویو اویا زړو امپریالیستانو پوری تړلی وی، زمونږ لپاره توپیر نلری چی هغه ددجال په کانگرس کی جوړ دی که په سنا کی؟ که دخرو نشان یی په سروی یا دفیل په غوږو کی ویده وی نودافغان دتوری لپاره دواړه یودی اوستاسوسره به یی یوځای دتاریخ کندی ته وغورځوی.

تاسو ښاغلی ددموکراسی علمبردار! تاسو دروغ وایاست: تاسو دلته نه کرزی ته اونه هم دشمال بدنامی ټلوالی لنډغروته هیڅ واک ندی ورکړی،تاسو واک اوځواک په خپلو منگلو کی ساتلی او ساتی یی.تاسوځوتنه رټل شوی غله دکرزی په شااوخوا راټول کړل، ورته مو ځو مخه داساسی قانون اونورو قوانینو په نامه تورکړل، ولی نه موخپله اونه هم دگواډگی رژیم دچارواکو لخوا ورته هیڅ ډول درناوی ونه شو اوترنن پوری ترپښو لاندی دی، اوددی جعلی سند ترڅنگ مو زمونږ ډیر سپیڅلی عنعنات اوروایتونه هم تر پښتو لاندی کړل. دی وړاندی وایی:( من توقع دارم کشف شود که او بهنگام خروج از افغانستان بطور شگفت آوری ثروتمند خواهد بود،) کله چی له خیره سره تاسو اوستاسو گوډاگیان پینی سپکی کړی نو مونږ افغانان هیله لرو چی نه یوازی دکرزی جیبونه تلاشی شی؟ بلکه دفهیم، خلیلی، دوستم اونورو غلو جیبونه دی هم تلاشی شی اوکه تاسو بشری وجدان درلود نو تاسو به هم دلته خپلی کځوړی اوکانتینرونه تش کړی، ولی تاسو داکار نه کوی؟ځکه تاسی اوستاسو نظام اوطرز تفکر تاسو ته دااجازه نه درکوی اودی ته مو هڅوی ترڅو زیار باسی چی دکرزی په لیری کولو اودکوم بل مزدور په راوستلو سره دخپلی پانگی ځخه ساتنه وکړی.

(ما ضرورت داریم کسانی را پشتیبانی کنیم که دلایلی برای ایستادن و جنگیدن دارند)! هوکی ښاغلی بکر! ستاسو په لیک کی ښایی ترټولوریښتینی خبره همداوی؟ ستاسو داپیام دهغو پلورل شویو کړیو لپاره ډیر ښه سیگنال دی! دشمال لنډغرو دجگړی لپاره ترټولو غوره دلیل دقدرت اومادی سرچینو قبضه کول و، دوی دقوم ،ژبی اوسیمی لپاره کوم تعهد اوژمنتیا نه درلوده اونه یی لری اونه یی ددغو اهدافو لپاره په ټول ژوند کی یو گام اوچت کړی. دوی پرون په هسکه غاړه دروسانو سره اوړه په اوړه ددی ملت پروړاندی جنگیدل اوبیا سره نیم شول، ځینی یی ستاسو دعربی حرامزادگانو سره غرو ته شول ترڅو زمونږ دنیکه گانو سنگرونه راته ناولی کړی ،اوځینو یی نکټایی گانی وتړلی اودموکراتان شول اوستا سو جنډه یی پورته کړه کومه چی دالله په فضل اوددی ملت په قربانی اوسربښندونو اوس مخ په ځوړه اولیری به نه وی چی موجودیت یی په سپینه مانی هم له سواله سره مخ شی انشاء الله.

(نمایندگان اتحاد شمال برای شمولیت زبانهای خویش شدیدا مناقشه کردند، نه شما -- یک نکته ایکه شما خیلی خوب خبر دارید). دابیا نو ښاغلی رورا بکر ستاسو دحرامزادگی اوج دی. دلته یوازینی ځمکه ده دنړی پرمخ چی یوورور قوم دبل ورورقوم ژبه تر ده لاډیره پالی او روزنه یی کوی. دلته هرپښتون مثنوی، حدیقه،شاهنامه،گلستان، بوستان اونورکتابونه چی په دری دی په سرډپاسه ایږدی اوهمدارنگه دانور ورونه! دایوازی یو ځو دروسانو اوستاسو په لاسونو جوړشوی مزدوران دی چی ځانونه یی په تاسو پلورلی اودلته دژبو بیلتون ته لمن وهی: کله ناری کوی چی پوهنتون د نه وی دانشگاه دوی؟ اویا دگوډاگی پارلمان غړی حفیظ منصور غوندی چی وایی: «این ظلم است که ما را افغان میگویند.» داټولی دخندا وړ کیسی دی چی تاسو ځو تنه بیسوادان او هیواد پلرونکی پری شخوند وهی. ولی دوی

احمقان په دی نه پوهیږی چی افغان او افغانستان تردی ډیر لوی اوغښتلی دی چی دروسانومزدوران اویا ستاسو مزدوران به دغه نوم له نړیوال قاموس څخه ورک کړی؟ دغه بیسوادان خود له اقبال لاهوری نه لږ شرم وکړی چی دری سوه کاله مخکی یی په دغه نامه ویاړ کړی.

**گرندانی غیـرت افغـانی ام**

**چوبه میدان آمدی میدانی ام**

تاسو اوستاسو مزدورانو ډیر زیارواېست چی دغه بیلتون پالنه ستاسود بلی گویانو په ژبه (نهادینه) کړی اوداسی کړنی ددوی په لاسو وکړی کومی چی یی په تیرو کی دنورو مزدور ډلو په لاسونو ترسره کړل.

په پای کی دغه ښاغلی نیولیبرال اعتراف کوی:( قرار معلوم حالا واضح است که ایالات متحده نمیتواند آنقدر خوشبخت باشد که افغانستان را با یک آیندۀ صلح آمیز ترک کند). واه واه! دغه خبره ددی ملت په کارده چی یرغلگراو تیوریسنان یی په دی اعتراف وکړی! زمونږ همدا ټکی په کار دی! دغه افتخار اوویاړ مو بس دی! تاسو به هیڅکله هم له نیکمرغیو سره له دغه ټاټوبی څخه ونه وزی! نه به مو دغه پرهارونه بیا جوړ شی اونه به مو هغه گوډ اومات جوړ شی چی دلته جنگیدلی، ستاسو دروانی ناروغانو ترڅنگ ستاسو اقتصاد چی ستاسو دین او ایمان دی هم ډیر ناروغه شو،په لیونی ناروغی اخته شو، په خلیج یی برید وکړ، په عراق، په لیبیا، په شام اومالی کی یی وینی تویی کړی، ولی ناروغی یی دخدای په فضل ورځ تر بلی لازیاتیږی اوبحران یی پرسیږی آن تر دی چی داروپا په زړه اودانسانی تفکر په زانگو(لرغونی یونان) کی یی خلک دروزی اوگدایی ته ودرول.دامپریالیزم اصلی څیره یی انسانانو ته ښکاره کړه چی څرنگه په مړیو بولی کوی او په زندان کی په ښځویی سپی اچوی اوبالاخره یی ټول انسانیت ته توهین اوسپکاوی وکړ.

داهغه څه و چی نړیوالو ته په کار وچی په خپلو سترگو یی وگوری اودامپریالیزم دڅیری بربنډول اولوڅونه او رسوا کول اوروسیاه کول اوبالاخره ددوی مادی او فکری ماتول او شړل ددی ولس برخه او سرنوشت وچی یوځل بیا ټولی نړی ته د آزادی ، خپلواکی،قربانی اوسرښندنی مشعل وگرځید اودحافظ شیرازی په قول : (قره فال به نام من دیوانه زدند) هوکی دفرعونانو غرقول او دسرکښو استعمارچیانو گورته سپارل ددی ملت په فال رسیدلی او ددی ملت سرنوشت دی:

| | |
|---|---|
| لاتراوسه یی ماغزه په قرار نه دی | چا چی ماسره وهلی سر په سنگ دی |

په درناوی

ژوندی دوی افغانستان

تل دوی خپلواکی

۱-تیر دوبی دشمال ټلوالی ځینیو مشرانو(دوستم، محقق، احمد ضیاء) اونورو ددانا رورا بکر په نوښت په برلین کی یوه افغانی ضد غونډه جوړه کړه په کومه چی عبدالله انس (دالقاعدی دمؤسسینوڅخه) هم ونډه درلوده او دشمال غله دی ته وهڅول شول ترڅودافغانستان له تجزیی سره موافقت وکړی. دوی ته ویل شوی و چی ټولی مادی سرچینی ستاسو په سیمو (شمال) کی شتون لری اوله پینتو څخه یی پرته خپل کړی اوځانونه پری سوکاله کړی.

۲-سگ شوی – هغه اصطلاح ده چی دشمال ټلوالی لنډغرو دلویدیځ څخه راغلو افغانانوته منسوبه کړی.